۲۰۱۹/۱۲/۱۹

عبدالباری جهانی

# د انګریزي استعمار او روسي امپراطورۍ په مقابل کي د امیر شیرعلي خان او سید جمال الدین افغاني دریځونه

## لمړي برخه

"د افغانستان په څير نيم وحشي دولتونو سره موږ د هغو بين المللي قوانينو او مقرراتو رعايت کولو ته مجبور نه يو چي په نړۍ کي د متمدنو هيوادونو ترمنځ موجود دي" سر جيمز ستيفن دلندن تايمز ورځپاڼي ته.

له دي يوي جملي څخه موږ قضاوت کولای سو چي غربي، يا په اصطلاح، متمدن هيوادونه د دريمي نړۍ خلکو ته په څه سترګه ګوري. دا د برتانيي د مستعمراتو لپاره د خارجه وزير د مرستيال نظر دی چي د نولسمي پېړۍ په نيمايي کي يې ورکړی او جورج ډاګلاس کيمبل، چي په ډوک آف ارګايل مشهور وو، د شرق مسأله، په نوم خپل کتاب ۲۷۵ پاڼه کي راوړی دی.

کله چي د انګلستان په پارلمان کي دا خبره طرح سوه چي ايا برتانيي دا حق درلود چي د افغانستان په څېر يوه مستقل هيواد د امير په مقابل کي جنګ اعلان کړي او په زور يې وپرزوي نو د پارلمان يوه غړي په زغرده وويل چي بين المللي قوانين د شېرعلي په څېر يوه اسيايي واکمن په حق کي نه تطبيقيږي. هغه دافغانستان يو قانوني واکمن وو... مګر زموږ لپاره علمي سرحد په کار وو، او داسي فيصله وسوه چي د شېرعلي پاچهي ښايي تباه سي، ځکه چي هغه صرف يو اسيايي واکمن وو او موږ يو مسيحي متمدن هيواد. اسلام يورپ اينډ ايمپاير ص ۳۷۵ ( ګواکي مسيحي متمدن هيواد د اسيايي هيوادونو او حکومتونو د ورانولو او تباه کولو شرعي او قانوني جواز يا په اصطلاح لايسنس لري ج)

ما( جهاني) په کال ۱۹۸۲ کي په چارسده کي د خان عبدالغفار خان په کور کي د پښتنو له هغه ستر مشر سره د محمد حسن اولسمل د اخبار افغان مجاهد د شپږمي ګڼي لپاره مرکه کوله او هغه د مرکي په ترڅ کي راته وويل چي بچو! لوبه د سوپر پاور ده او پښتانه پکي دل شول.

له هغې نېټي تر اوسه پوري څه باندي اووه ديرش کاله تېر سوي دي او لوبه هغسي روانه ده. طبيعي خبره ده چي دا لوبه نه افغانانو پيل کړې، نه يې روانه کړې او نه يې ختمولای سي. لوبه پردۍ ده، خو ميدان يې، د دوی د خوښي او ارادې په خلاف، د دوی انګړ انتخاب سوی دی. په حقيقت کي، لويو غربي هيوادونو او قدرتونو هيڅ وخت شخصي دښمني نه سره درلوده او که جګړې ته سره وتلي دي نو هغه به د کمزورو هيوادونو د خاورو او



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

منابعو د ویشلو پر سروه. روسیه او برتانیه په نولسمه پېړۍ کې، په اسیا کې، دوه لوی رقیب هیوادونه ګڼل کېدل. دواړه په خپلو سیمو کې په فتوحاتو او د مظلومو اولسونو په قتلولو او لوټلو لګیاول. دواړه په دې پوهیدل چې هیڅ وخت به مخامخ جنګ ته سره ونه درېږي خو د خپلو خلکو او د سیمي د اولسونو د غولولو لپاره یې له یوه بل څخه بلاوي جوړي کړي وې. میخایل ګریګورویوف، چې شل کاله په غربي سایبیریا کې ګورنر وو، د نولسمي پېړۍ د نیمايي په کلونو کې ماسکو ګزیت مجلې ته لیکلي وه چې " انګلینډ یوازینی هیواد دی چې د روسانو په مقابل کې له بخارایانو سره جنګي مرستي کولای سي. نو دا ډیر احتمال لري چې د بخارا امیر به په یوه فرصت کې، زموږ په مقابل کې، له انګریزانو څخه مرسته وغواړي. زموږ وروستني اطلاعات ښیي چې د بخارا امیر خپل استازي کلکتې ته لیږلي دي او له انګریزانو څخه یې د مرستي غوښتنه کړې ده او ژمنه یې ورسره کړې ده چې د دې مرستي په بدل کې د هر څه ورکولو ته تیار دي...دا امکنه ده چې انګریزان به د بخارا امیر ته د پیټو مرستو وعده ورکړي، خو که احتمالاً دا کار وکړي نو بیا موږ هم کولای سو چې د هند په سر حدي سیمو کې ستونزي ورته جوړي کړو... خو دا خبره ده چې که چیري برتانیه د بخارا سره د مرستي لپاره خپلي قواوي را لیږي نو دا خو به د افغانستان د لاري ورته را استوي او زه ګومان نه کوم چې برتانیې به په افغانستان کې د کال ۱۸۴۲ د ماتي ترخه درسونه هیر کړي وي او بیا به افغانستان ته د خپلو قواوو لیږلو ته زړه ښه کړي. که چیري بیا دا اقدام کوي نو زه خو وایم چې اووه ځله به غور وړباندي کوي. مګر که بخارا د خیوا او خوقند سره لاس یو کړي او د روسي قواوو پر ضد اسلامي جنګ پیل کړي نو پرته له دې چې خپل ښارونه به تباه کې او خپل استقلال به له لاسه ورکړي او د روسیې امپراطوري به یې له ستونې تېرکړي نورهیڅ ګټه نه ورته کوي .

Rawlinson PP 270-271

البته دا لیکنه د برتانیې داسي سیاستمدار را نقلوي چې په وچ زور په خپل اولس کې پر برتانوي هند باندي د روسیې د امپراطورۍ د حملې وېره خلقوي او د خپل پورتني کتاب په مقدمه کې لیکي چې " زما پخپله عقیده، چې په ایران، افغانستان او هند کې د څلویښتو کالو خدمت په نتیجه کې ورته رسیدلی یم، او دا عقیده مې څو څو ځله اظهار کړې او د خلکو تر غوږونو مې رسولې ده، او سر جوستین شیل چې لس کاله په تهران کې وو، زما د عقیدې ملاتړ کوي، چې که روسیه د هرات پر لور پرمختګ کوي نو برتانیه د هند د خوندي کولو لپاره بیا د لویدیځ افغانستان اشغالولو ته مجبوره ده. مګر زه ګومان نه کوم چې یا په هند او یا په اینګلینډ کې دې مسول پوځي مقامات زما دغه عقیده را سره ومني " هغه کتاب مقدمه.

روسیې په نولسمه پېړۍ کې هیڅ وخت د برتانوي هند د اشغالولو او په اصطلاح تودو اوبو ته د ځان رسولو خیال نه درلود او که یې درلود نو دا وس او پوځي او مالي قدرت ورسره نه وو؛ او برتانیې دوه ځله په لوی لاس د افغانستان دمظلوم او سوله غوښتونکو اولسونو مشران د برتانیې پر ضد د روسیې سره په دوستی تورن کړل او د افغانستان د لاري یې پر هند باندي د روسیې د یرغل او تودو اوبو ته د ځان رسولو د وهمونو قرباني کړل.

په روسي ترکستان کې د روسي قواوو یوه لوی قوماندان جنرال سکوبیلوف د برتانیې د خارجه وزارت د مامور او ژورنالیسټ چارلس ماروین د دې سوال په جواب کې چې آیا روسیې پر هند باندي د حملې خیال درلود کنه وویل چې " زه فکر نه کوم دا به د روسیې لپاره ممکنه وه. زه نه پوهیږم چې د برتانیې پوځي مقامات د پوځي او بحریه قوې په مجلو کې دا خبره څرنګه خپروي. زه به هیڅ وخت د داسي قواوو قوماندانی غوره نه کړم. دا

عمليات ډير زيات مشكلات لري. موږ د اخال د لاندي كولو لپاره يوازي پنځه زره پوځيان درلودل او د هغوی لپاره مو شلو زرو اوښانو ته ضرورت وو. موږ د دې اوښانو د برابرولو لپاره اورينبرگ، خيوا، بخارا او منگيشلاک ته سړي واستول، او ډيري سختي ستونزي مو وگاللي. موږ پر هند باندي د حملي لپاره يو سل او پنځوس زرو عسكرو ته ضرورت لرو. شپيته زره قوه بايد هند ته ننوزي او نيوي زره بايد ارتباطات وساتي. اوس نو كه پنځه زره عسكر شل زرو اوښانو ته ضرورت لري د يو سل او پنځوس زرو عسكرو په باره كي پخپله فكر وكړه او موږ به د دې قوې د حمل و نقل لپاره اوښان او څاروي له كومه كوو؟ موږ به ډيرو زياتو اكمالاتو ته اړتيا ولرو؛ ځكه چي افغانستان يو غريب هيواد دی. هغوی زموږ شپيته زره عسكر نه سي اكمالولای؛ نو موږ به هم ستاسي او هم له افغانانو سره جگړه كوو"

كله چي ماروين جنرال سكوبيلوف ته وويل چي تاسي ښايي افغانانو ته رشوتونه او پيسي وركړی او زموږ پر ضد يې را وپاروی نو هغه وويل چي" روسان به چا ته رشوت وركړي. كه روسان يوه سردار ته رشوت وركړي تاسي به يې بل سردار ته وركړی. كه روسان يو روبل مصرف كړي تاسي به دوه مصرف كړی او كه روسان دوه روبله ولگوي تاسي به پنځه ولگوی، او موږ ته به په دې كار كي شكست راكړی. افغانان به زموږ سره په هغه شكل جگړه وكړي لكه ستاسي سره چي يې وكړهMarvin" ص ۱۰۳-۱۰۴

تر څو چي په نړۍ كي زور او زورور موجود وي عدالت نه سي ټينگيدلای او د كمزورو هيوادونو پر حقوقو او خاوره به تيری كيږي؛ خو هغه دوه ځله، ظالمانه او په مطلق ډول بې دليله، تيری به چي انگريزانو پر افغانستان باندي وكړ په نړۍ كي ډېر لږ مثال ولري. انگرېزانو ظاهراً په دې پلمه چي روسان د ايران، يا د افغانستان د لاري او يا د دواړو هيوادونو سره يو ځای د هرات د لاري پر هند باندي حمله كوي، د افغانستان اشغال ته مخه كړه، البته دواړه ځله په تور مخ ووتل. ډوک آف ارگايل په خپل كتاب كي ليكي: " موږ د داسي خلكو په خپلواكي كي مداخله وكړه چي د مداخلي كولو هيڅ حق مو نه درلود، او لا د هغوی د خپلواكی ساتل زموږ په گټه وه. زموږ د مداخلي هدف په هغه اندازه چي غيرعادلانه وو په هغه اندازه احمقانه وو. موږ له يوه زړه ور او لايق امير( امير دوست محمدخان) سره مخالفت وكړ او د هغه پر ځای مو يو كمزوری سړی( شاه شجاع) كښېناوه چي موږ په دې پوهېدلو چي د خپلو خلكو او هيواد سره خيانت كوي. موږ د دغه ناوړه هدف د ترلاسه كولو لپاره د هند د خلكو شته مني ولگوله. د هند د شته منی څخه څه باندي شل ميليونه روپۍ لومړی د جنگ په پيل كولو او بيا له هغي فاجعي څخه په راوتلو ولگېدې. دا ممكنه ده چي كه مو پر خپلي سرزوری باندي ټينگار كړی وای او ډير زيات پوځي عمليات مو كړي وای نو افغانستان به مو فتح كړی وای. مگر نو هغه لگښتونه چي زموږ په خپل سرحد كي د يوه هيواد په نيولو لگېدل او هغه پرله پسي ماتي چي موږ يې په شرمونو شرمولو هم په هند او هم په انگلينډ كي هر سياستوال ته څرگندي وې. موږ په بشپړ بري پر خپلي غلطی او اشتباه باندي اعتراف وكړ او نړی زموږ پر اعتراف آفرين ووايه.موږ ژر په دې پوه سوو چي د هغه زړه ور سړي سره دوستي پيل كړو چي د يو څه وخت لپاره مو له تخته محروم كړی او د هيواده ايستلی وو او هغه د خپل ژوند تر پايه پوري زموږ ټينگ او وفادار ملگری سوDuke of Argyll " ص ۲۲۱-۲۲۲

د افغان او انګلیس دوهم جنګ، یا بهتر ووایو پر افغانستان باندي د انګریزانو دوهم بې دلیله او ظالمانه یرغل، د همدغو بې انصافیو او بې عدالتیو ادامه ده؛ البته په لومړي جنګ کي مقصر، تر ډیره ځایه، یوازي برتانیه او په دوهم جنګ کي تزاري روسیې او برتانیې دواړو برخه درلوده.
لارډ رابرټس لیکي دا یو عجیب تصادف دی چي د افغان او انګلیس په دواړو جنګونو کي په کابل کي د روسي افسرانو حضور د دواړو هیوادونو ( برتانیې او افغانستان) د جنګ سبب سو. Roberts ص ۳۳۹
بل ځای لیکي " زه ویلای سم چي امیرشېرعلي سره له هغه چي د خپلي پاچهی په سر کي یې زموږ څخه ډیري زیاتي ګیلې درلودلې، له هغو مرستو څخه ډیر راضی او منندوی وو چي وروسته لارډ لارنس ورسره وکړې، او وروسته بیا لارډ مایو د یوه پاچا په حیث هرکلی ورته ویلی وو. وروسته په کال ۱۸۷۳ کي دې ته حاضر وو چي زموږ سره د دوستی یو تړون لاسلیک کړي خو په دې شرط چي د ده کشر زوی سردار عبدالله جان مو د ولیعهد په حیث منلی او د روسانو د یرغل په صورت کي مو د مستقیمي مرستي وعده ورکړې وای. څرنګه چي موږ د هغه دا شرایط ورسره ونه منل او په سیستان کي د سرحد د ټاکلو په مسله کي مو د هغه د آرزو خلاف عمل وکړ نو له امیرشېرعلي خان څخه مو په لوی لاس دښمن جوړ کړ او ده هم د خپل پلار په څېر زموږ څخه مخ واړاوه او د روسانو دوستی ته یې مخه کړه" هغه کتاب ص ۳۴۰-۳۴۱
امیر دوست محمد خان په جلال آباد کي وو چي پر فراه باندي د هرات د حاکم سلطان احمد خان( د امیر دوست محمدخان زوم او وراره) له حملي او د فراه د ښار د نیولو څخه خبر سو. امیر خپل زوی شیرعلي خان د یوه قوي پوځ سره د فراه خواته واستاوه. شیرعلي خان فراه ونیوله او امیر دوست محمد خان د ۱۸۶۱ کال د مارچ په میاشت کي پخپله د هرات پر لور وخوځید. د هرات ښار یې د همدغه کال د اګست په میاشت کي محاصره کړ.
د هرات د ښار محاصرې لس میاشتي دوام وکړ. د محاصرې په جریان کي د امیردوست محمد خان لور، چي د سردار سلطان احمد خان میرمن وه، وفات سوه، دوې میاشتي وروسته پخپله سلطان احمدخان هم وفات سو. د هغه زامنو شهنواز خان او سکندرخان د وې میاشتي نور هم مقاومت وکړ او بالاخره د هرات ښارد ۱۸۶۲ کال د مي پر اووه ویشتمه تسلیم سو. امیردوست محمد خان دیارلس ورځي وروسته، د جون پر نهمه، د هرات په ښار کي، وفات سو، او د خواجه عبدالله انصاري په زیارت کي خاورو ته وسپارل سو.
د امیر دوست محمد خان د وصیت سره سم، د هغه ولیعهد شیرعلي خان، څلور ورځي وروسته، په هرات کي خپل سلطنت په داسي حال کي اعلان کړ چي تقریبا ټول ورونه، په تیره بیا د هغه مشران ورونه، محمداعظم خان او محمدافضل خان یې مخالف ول. لکه څرنګه چي مخکي یې پیش بیني کیدله، د امیر دوست محمد خان له وفات څخه وروسته د ورونو ترمنځ داخلي جنګونه پیل سول. د دې جنګونو په نتیجه کي د امیر شیرعلي خان سکه ورورمحمدامین خان او د امیر مشر زوی محمدعلي خان د قلات په جنګ کي ووژل سول. لږ وروسته محمداعظم خان او د محمدافضل خان زوی سردار عبدالرحمن خان کابل ونیوی. څه باندي دوه کاله وروسته امیرشیرعلي خان، د خپل زوی سردار محمدیعقوب خان په مرسته، لومړی کندهار او وروسته کابل ونیوی. سردارعبدالرحمن خان روسیې ته وتښتیدی، امیرمحمداعظم خان په نیشاپور کي د هیضه په مرض وفات سو او په دې توګه د امیر شیرعلي خان د امارت دوهمه دوره پیل سوه.

په کال ۱۸۶۷ کې، چې اميرشيرعلي خان په قلات کې د سردار عبدالرحمن خان په مقابل کې ماته وخوړه او قدرت د اميرمحمدافضل خان لاسته ولوېدی نو د برتانوي هند ويسرا سر جان لارنس هغه، د کابل د امير په حيث، په رسميت وپېژاند او نور يې د هيڅ ډول مرستي ژمنه ورسره ونه کړه. اميرمحمد افضل خان هم د سوات هغو ملکانو ته چې ده ته د امارت د مبارکی ويلو لپاره کابل ته راغلي ول د انګريزانو په مقابل کې د جهاد بلنه ورکړه او له هغوی سره يې د هر ډول مرستي ژمنه وکړه. کله چې اميرشيرعلي خان، د غزني په جنګ کې، د سردار عبدالرحمن خان په مقابل کې بله ماته وخوړه؛ او په نتيجه کي کندهار هم د اميرمحمدافضل خان لاسته ورغی بيا هم د هند ويسرا هغه د ټول افغانستان د امير په حيث نه بلکه د کابل او کندهار د امير په حيث په رسميت وپيژاند؛ او د مرستو ژمنه يې هم ورسره ونه کړه. اميرمحمد افضل خان د انګريزانو له مرستي څخه زړه ماتی سو او خپل يو هيات يې په ترکستان کي د روسانو کمپ ته واستاوه او له هغوی سره يې د سياسي او تجارتي اړيکو د ټينګولو غوښتنه وکړه؛ خو عمر وفا ورسره ونه کړه او تقريبا دوې مياشتي وروسته وفات سو. Roberts ص ۳۰۶_۳۰۷

دغه راز، کله چې اميرشيرعلي خان، د خپلو ورونو سره د جنګونو په وخت کي، له انګريزانو څخه د مرستي غوښتنه وکړه، برتانوي هند د هغه غوښتنه ونه منله او د افغانستان په داخلي جنګونو کي يې د بېطرفی اظهار وکړ. هغه مجبور سو چې د ايران څخه مرسته وغواړي او خپل زوی سردار محمد يعقوب خان يې د همدغه مقصد لپاره د ايران پاچا ته واستاوه خو هغه هم د انګريزانو له وېري د شيرعلي خان سره مرسته ونه کړه او شيرعلي خان، سره له هغه چې، د دوهم ځل پاچا کيدلو څخه وروسته يې، د برتانوي هند سره دوستانه اړيکي ساتل، د تل لپاره پر انګريزانو باندي بې اعتماده سو. که څه هم چې په کال ۱۸۶۸ کي يې، د برتانوي هند سره د دوستانه اړيکو د ټينګولو لپاره، هند ته سفر وکړ مګر د برتانوي هند له حکومت څخه يې خپل نفرت په څرګنده ښکاره کاوه او دا يې ځو ځلي ويلي وه چې" انګريزان پرته له خپلو ګټو بل په هيڅ شي کي ری نه وهي. هر څوک چي په هر وخت کي زيات قدرت ولري دوی د هغه ملګري کېږي. زه به هيڅکله د انګرېزانو سره د دوستانه اړيکو د ټينګولو او پر هغوی باندي د اعتماد کولو لپاره خپل ارزښتناک عمر ضايع نه کړم، او له نورو حکومتونو سره به دوستي ټينګه کړم Rawlinson ص ۲۹۵

البته، اميرشيرعلي خان د خپل ختيځ ګاونډي په زورزياتي او د دسيسو په قوت ښه خبر وو او نه يې غوښتل چي خپل ځان ورسره مقابل کړي او خبره د جنګ پولي ته ورسوي. د قدرت د نيولو سره سم يې د اصلاحاتو د پيل کولو تر څنګ د برتانوي هند سره د اړيکو د بهترولو خواته توجه واړوله او په کال ۱۸۶۸ کي يې په امباله کي د هند له ويسرا لارډ مايو سره وکتل. د هند وايسرا د امير ښه عزت وکړ خو کله چې امير له هغه څخه وغوښتل چي برتانوي هند دي امير او د هغه وارثان د افغانستان د قانوني پاچاهانو په حيث په رسميت وپيژني، برتانوي هند دي له افغانستان سره دفاعي تړون لاسليک کړي چي د هغه په اساس به امير د انګريزانو د دوستانو دوست او د دښمنانو دښمن وي او دغه راز بايد د برتانوي هند حکومت د کابل حکومت ته، په منظم ډول، کلنی سبسيډي( مالي مرسته) ورکوي؛ نو د برتانوي هند حکومت د هغه يوه غوښتنه هم ونه ومنله او هغه ته يې وويل چي د هند حکومت دې ته تيار دی چې د امير دښمنان له هغه سره له مخالفتونو او حملو څخه را وګرځوي او د ده تود ملاتړ

وکړي او په تجارتي چارو کي مرسته ورسره وکړي. امیر شېرعلي خان په دې سفر کي له هند څخه شپېته زره پونډه مرسته ترلاسه کړه. Roberts ص ۳۰۷-۳۰۸

امیر شیرعلی خان او د هغه وزیر سید نور محمد شاه تر پایه پر دې خبري ټینګارکاوه چي برتانیه دي د ده او د ده د کورنۍ قدرت تضمین کړي او د افغانستان د مشروع واکدارانو په حیث دي هغوی په رسمیت وپېژني. امیر د خارجي یرغل په باب هیڅ اندېښنه نه درلوده. جورج کیمبل ( ډوک آف ارګایل) لیکي چي لارډ مایو په خپل خصوصي لیک کي ماته ولیکل چي امیر د امبالې په کنفرانس کي د روسیې نامه ته ښځي اشاره قدر هم ونه کړه؛ نو یا خو دی په خپلو داخلي مشکلاتو کي سخت ډوب دی او یا د هغوی په پرمختګونو او یرغلونو خبر نه دی او کله چي موږ د خپلو خبرو په ترڅ کي روسیې ته اشاره کړې ده دی معمولا وایي چي تاسي به تر ښځي ډېره وخته پوري په افغانستان کي د روسانو په باب څه وانه وری» Duke of Argylle ص ۲۶۱-۲۶۲

لارډ مایو د امبالې په کنفرانس کي یوه څرګنده ژمنه وکړه او هغه دا چي د امیر په ښارونو کي به هیڅ وخت اروپایی مامورین د استازو په حیث نه ټاکل کیږي. هغه کتاب ص ۲۶۴

له بلي خوا د افغانستان شمالي ګاونډي روسیې هم، چي پخپله یې پر خپلو ظلمونو او قتل عامونو باندي اعتراف کاوه، د مرکزي اسیا هیوادونه او ښارونه یو په بل پسې لاندي کول او ځان یې د آمو د سیند غاړي ته رسولی وو. د ترکمنستان په سیمه کي د روسیې د قواوو عمومي قوماندان جنرال سکو بیلوف د برتانیې د خارجه وزارت مامور او ژورنالیست چارلس ماروین ته په یوه مرکه کي ویلي وه « ته پوهیږې ښاغلی ماروین، او دا زما خبري باید خپرې نه کړې ځکه چي د سولي ټولنه به ما وحشي وبولي، هغه دا چي زه په آسیایي هیوادونو کي یو پرنسیپ لرم چي په آسیا کي چي هر څونه زیات خلک قتل کړې هغوی زیات وېرېږي او تر ډېره وخته پوري آرام پاتیږي. موږ په ګوک تیپه کي شل زر ترکمنان قتل کړل او د هغو حملو څخه ژوندي پاته سوي کسان به تر ډېره وخته پوري دا پېښي له یاده ونه باسي»Marvin ص ۹۸-۹۹

د ترکمنستان ګورنرجنرال کوفمان امیرشیرعلي خان ته د ۱۸۷۰ د اپریل په میاشت کي خپل لومړی لیک واستاوه، او وروسته یې خپله د لیکونو هغه سلسله پیل کړه چي د سر پرسي سایکس په قول یې د امیر شیرعلي خان د سقوط لپاره زمینه برابره کړه. جنرال کوفمان ، غوښتل د خپلو دغو پرله پسې لیکونو په وسیله، که نور هیڅ نه وي نو، د برتانوي هند او امیر شیر علي خان د حکومت ترمنځ بدبیني ایجاد کړي، او کوښښ وکړي چي روسیه د افغانستان په څیر یوه حساس ځای کي د ښې د اېښودلو ځای پیدا کړي. هغه په خپل لومړي لیک کي امیر ته اطلاع ورکړه چي سردار عبدالرحمن خان بخاراته رسیدلی دی، او د روسیې حکومت یوازي د میلمه پالني له مخي د هغه هرکلی کړی دی او روسیه هیڅ وخت د افغانستان په داخلي چارو کي د مداخلي کولو نیت نه لري. شیرعلي خان دې لیک وارخطا کړ. د روسیې د ګورنر جنرال په هدف پوه نه سو او د هغه لیک یې کټ مټ وایسرا ته واستاوه. وایسرا امیر شیرعلي خان ته مشوره ورکړه چي د کوفمان د لیک جواب ورکړي او د هغه د ښه نیت او اطمینان له کبله مننه ورڅخه ورکړي. امیر کوفمان ته لیک واستاوه او دا یې هم ورته ولیکل چي وایسرا یې له موضوع څخه خبر کړی دی. دوې میاشتي وروسته جنرال کوفمان امیر ته بل لیک واستاوه او د دې لیکونو سلسلي دوه درې کاله دوام وکړ. Sykes ص ص ۹۷-۹۸

امیر، د خپل قدرت د لومړیو شپو ورځو څخه، د پاڼ او پرانګ ترمنځ وو. له برتانیي څخه چي یي د مرستو غوښتنه کړي وه او بیا بیا یي هیله ورڅخه کړي وه، هغوی مناسب جواب نه ورکاوه. د روسیې څخه، چي پرله پسې یي د مسلمانانو مځکي لاندي کولي او د وحشیانه قتل عامونو خبرونه یي د امیر تر غوږه رسېدل، د دوستی لاسونه ورته راغځېدل. البته امیر د دواړو ګاونډیانو ترمنځ برتانوي هند ته ترجیح ورکوله خو هغه حکومت د ده غوښتنو ته هیڅ وخت مثبت جواب ورنه کړ. سرپرسي سایکس لیکي چي که چیري د امیرشیرعلي حان په برخه کي د ویسرالارډ نارت بروک پالیسي منل سوې وای او هغه په دې پوه سوی وای چي موږ ریښتوني مرسته ورسره کوو نو موږ به د افغانستان دوستي له لاسه نه وای ورکړې. په حقیقت کي موږ هغه مجبور کړ چي د روسیي پر ملاتړ تکیه وکړي. هغه کتاب ص ۱۰۰

جنرال رابرټس لیکي" ما له یعقوب خان سره څو په زړه پوري مجلسونه وکړل او کله چي مي زموږ سره د امیرشیرعلي خان د اړیکو د شلولو د علت په باب پوښتنه ورڅخه وکړه نو هغه را ته وویل چي که څه هم چي ویسرالارډ مایو له امیر سره هغه څه ونه کړل چي امیر یي هیله درلوده مګر سره له هغه هم په لاسته راوړو مرستو قانع وو؛ خو کله چي په کال ۱۸۷۳ کي سید نور محمدشاه له سیملې څخه راستون سو نو امیر له انګریزانو څخه سخت خپه او زړه ماتی سو او روسانو ته یي مخ ور واړاوه او له هغوی سره یي مکاتبو ته دوام ورکړ... او کله چي مي د امیراو روسانو ترمنځ د لیکونو په باره کي پوښتنه ورڅخه وکړه ده را ته وویل چي، کله یي د انګریزي هیات سره د کتلو لپاره، د ګندمک پر لور حرکت وکړ، هغه لیکونه یي ټول وسوځول" Roberts ص ۴۲۱

برتانوي استعمار او روسي امپراطوری دواړو، له افغانستان سره، په یوه سویه، نامردي وکړه او د افغانستان بې ګناه، مظلوم او له هر څه بیخبره اولسونه یي، په لوی لاس، د جنګ اورته وغورځول. برتانوي استعمار، د افغان او انګلیس د لومړي جنګ په څېر، له وچي سرزوری څخه کار واخیست او روسي امپراطوری د جنګ د پیل کیدلو تر پولي پوري له افغانستان سره، د برتانیي د یرغل په صورت کي، د مرستو ژمني کولي او د انګریزانو او افغانستان تر منځ د جنګ پر سر حد باندي له خپلو ټولو ژمنو څخه پر شا سوه.

د برتانوي هند ګورنرجنرال لارډ مایو د ۱۸۷۲ کال د فبروري په میاشت کي د اندیمان په ټاپوګانو کي، چي د هند او برما ترمنځ پراته دي، او د برتانوي هند مقاماتو زیاتره سیاسي بندیان ن هلته ساتل، یوه پښتانه بندي په چاړه وواهه او مړ یي کړ. د لارډ مایو پر ځای لارډ نارت بروک وټاکل سو چي د افغانستان په برخه کی یي نسبتاً نرم دریځ درلود. د لارډ نارت بروک د حکومت په لومړیو شپو ورځو کي د افغانستان او ایران ترمنځ د سیستان پوله، د امیرشیرعلي خان د ټولو اعتراضونو او نارضایت سره سره، وټاکله ه سوه. نارت بروک امیر ته ولیکل چي د پولي د کارونو د ختمېدلو سره سم به د کابل حکومت ته پنځه لکه کلداري ورکړي؛ او ضمنا یي غوښتنه ورڅخه وکړه چي د برتانیي یو استازی به کابل ته د خبرو لپاره ورسي. امیر په کابل کي د برتانوي استازي پر ځای د کابل څخه د خپل استازي لیږل غوره وبلل او خپل وزیر سید نورمحمدشاه یي د مذاکراتو لپاره سیملي ته واستاوه.

د سید نورمحمدشاه مذاکرات تر ډیره ځایه بریالي وه. د هند حکومت ژمنه وکړه چي د افغانستان د داخلي ازادی درناوی به کوي. که څه هم چي د روسیي د لوري کوم جدي خطر نه لیده کیري، خو که د هغه پر خاوره باندي

تیرى وسي نو برتانیه به مرسته ورسره کوي؛ خو په دې شرط چې امیر، د برتانیې له حکومت سره د مشورې پرته، له هیڅ خارجي هیواد سره اړیکي ټینګ نه کړي. لارډ نارت بروک پیشنهاد وکړ چې د افغانستان په ځینو ښارونو کې به د برتانیې استازي مقررېږي خو سید نور محمدشاه ورته وویل چې په دې برخه کې یې د امیر څخه هدایت نه دی اخیستی. هغه ته وویل سول چې پر هغو پنځو لکو روپیو برسیره به چې تیر کال ژمنه ورسره سوې وه نورې پنځه لکه روپۍ په هم په سیستان کې د خاورې د لاسه ورکولو په بدل کې ورکړي.

امیر شېرعلی خان د سیملې د مذاکراتو نتیجې خواشینی کړ. وایسرا ته یې داسې جواب واستاوه چې د هغه ناخوښي ورڅخه څرګندېدله. امیر که څه هم چې وسلې ومنلې خو هغه لس لکه روپۍ یې چې د سیستان د پولې د ټاکل کېدلو په بدل کې ورکړه سوې وې وانه خیستلې او د پېښور په خزانه کې یې پرېښودلې. کرنل ولنټین بېکر ته یې، چې د مرکزي اسیا له لارې یې هند ته سفر کاوه، په افغانستان کې د تېرېدلو اجازه ورنه کړه؛ او څو میاشتې وروسته یې سرډاګلاس فورسیت او ورسره هیات ته هم اجازه ورنه کړه چې د افغانستان د لارې هند ته سفر وکړي. Roberts ص ۳۲۳.